# د خپلواکۍ جبهه او د فرهنګي مورچل ونډه

«سیند خپرندویه» ویاړ لري چې د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال، پنځمه کلیزه له نورو مبارزینو سره لمانځي. دا پنځمه کلیزه د خپلواکۍ له ۹۴ مې پرتمینې کلیزې سره سمون خوري چې په اوسني ښکیلاکمینه افغانستان کې د د دواړو لمانځنه خورا اهمیت لري. که له یوې خوا د مبارزانو او ولسونو لخوا د خپلواکۍ لمانځل، په حقیقت کې د خپلواکۍ په جبهه کې د جنګیالیو د ژمنتیا او شتون ښکارندوي کوي، له بلې خوا د «پورتال» د کلیزې لمانځل، د دې جبهې پر پیاوړتیا ټینګار کوي.

«سیند خپرندویه» باور لري چې زمونږ ګران هیواد افغانستان دا وخت د لودیځو ښکیلاکګرو په ښکیلاکمینه بدل شوی او په اوسني بدمرغي، ویجاړ او ړنګ او اسیر افغانستان کې د خپلواکۍ لمانځل د هر وخت په پرتله د وخت اړتیا ده. دا کومه فرمایشي او زړه خوښونکي لمانځنه نه ده، بلکې د خپلواکۍ پر اړتیا، د ولسونو پر مبارزې، د فرهنګي مورچل پر ونډې او د دې مورچل د پراخوالو پر لارو چارو د ټینګار مانا لري.

د نورو مورچلونو تر څنګ چې د خپلواکۍ جبهې په خدمت کې دي، یو یې هم فرهنګي مورچل دی. فرهنګي مورچل د ذهنیتونو او اندونو د سمبالولو او مدیریت په برخه کې خورا ستره ونډه لري. که چیرې یو فرهنګی مورچل بهاند او ځپاند وي او د کلیمو لالهاندي او فریادونه یې د ولس او د ستمځپلو وګړو له دردونو، رنځونو، هیلو او امیدونو اخیستي وي، بی له شکه داسې یو فرهنګي مورچل هغه وسله واله مورچل ته ورته دی چې د غلیم ټټر په مردکیو غلبیلوي او بالاخره یې د ولسونو په مټ په ګونډو کوي، خو که د دې خلاف وي، هغه ښکیلاکي ختړین سنګر ته پاتې کیږي چې د یرغلګرانو په چوپړ کې خوله تویوي او باید د ښکیلاکګرو له جبهې سره یوځای ړنګ او نابود شي.

د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال، یو له هغه پیاوړي فرهنګي مورچلونو څخه دی چې په تیرو پنځو کلونو کې د خپلواکۍ او استقلال د دفاع، د امپریالیستانو د جنایتونو او خیانتونو د بربنډولو، د لاسپوڅي دولت او د جهادی او طالبي فاشیستانو د بلوسګرۍ او ستمونو د افشا او د انقلابي هیوادپالنې د روحیې د پیاوړتیا لپاره نه ستړی کیدونکي هلې ځلې کړي دي. دا پورتال، د لسګونو مبارزو لیکوالانو، شاعرانو، ژباړونکو او هنرمندانو د زیار او زحمت په نتیجه کې پرتمین پاتې شوی او په ویاړ او لوړ سرۍ سره د خپلواکۍ او استقلال جبهې یو برمیاله مورچل دی.

د «سیند خپرندویه» د افغانستان د خپلواکۍ ۹۴ کلیزه، د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» د پورتال پنځمه کلیزه او ښاغلي محمد نسیم اسیر ته د ملك الشعرا لقب ورکونه، ټولو هیوادوالو ته د زړه له کومې مبارکي وایي. «سیند خپرندویه» د دې تر څنګ چې د ښاغلی اسیر قلم او توري او کلیمات د خپلواکۍ او استقلال، آزادۍ او برابرۍ لپاره تاند او غوڅاوو غواړي، باور لري چې شعر په اوسنې مهال کې د وسلې ښه لري او د ملك الشعرا دنده ده چې دا وسله صیقل کړي او د مجارستان د انقلابی شاعر «شاندور پتوفي» په وینا د خپلو شعرونو سره وجنګیږي.

**زه هم په دې جګړه کې ګډون کوم**

**د خپل ټولي له سرتیرو سره**

**زه د خپلو شعرونو سره**

**چې زړور زلمیان دي، جنګیږم!**

**فرهاد ویاړ**

**د سیند خپرندویه مدیر**

د زمري ۲۵ مه، ۱۳۹۲